مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان الله ارینزی ۲۰۱۹/۱۰/۱۵

کږې خولې په سوک سمېږي!

ښايي دا سرليک به ظاهراً تند ښکاري؛ خو که په افغانستان کې د غلو، غاصبينو، د اداري او اخلاقي فساد د اتلانو، انسان تښتونکو، قاتلينو، د کنځلو او کلاشينکوف د فرهنګ د پلويانو او د وينو او باروتو د سياسي سوداګرو مخه د قانون په زور ونه نيول شي، د افغانستان خلک به هيڅکله هم د سولې، امنيت، ټېکاو او نيکمرغۍ مخ په سترګو ونه ويني!

د افغانستان د ولسي جرګې په اوولسم پړاو او کېدای شي چې د دې هېواد د ملي شورى په نژدى سل کلن مزل کې، دا لومړى ځل دى چې ولسي جرګه نيمه شپه غونډه جوړوي او د امنيتي وزارتونو مسوولين ځکه ورغواړي چې ګواکې د کومې پوستې سرتېرو، د جرګې له دوو – دريو استازو سره بد چلند کړى او له دوى څخه يې وسايطو د اسنادو او تورو هېندارو پوښتنه کړې ده!!

شک نشته چې پوليس بايد مسلکي او په قوانينو پوه وي. د پوليسو په اکاډمي کې هم ځوانو افسرانو ته دا ښودل کېږي چې له مشرانو، چارواکو، عامو خلکو او بل لور له قانون ماتوونکو او مجرمينو سره بايد څنګه چلند وکړي؟ د کورنيو چارو وزارت مشران هم بايد هر وخت په ټول افغانستان کې خپل کادرونه او صفوف وڅاري او دا بايد واضح کړي چې د اصولو د ماتېدو په صورت کې انظباطي ګامونه اخستل کېږي؛ خو دا شريف آرمانونه يعنى د پوليسو مسلکي کېدل او د قانون د تنفيذ په ځواک بدلېدل، هغه وخت امکان لري چې ولسمشر، د ولسمشر مرستيالان، مشاورين، وزيران، وکيلان، سناتوران، جهادي مشران، واليان، امنيه قوماندانان او د امنيتي برخې جنرالان، شتمن او لنډه دا چې ټول پوليسو ته درناوى وکړي او هېڅوک دا حق و نه لري چې تر قانون پورته وي، د پوليسو اوامر ونه مني، تلاشى ته ونه درېږي، په پوليسو لاس واچوي، هغوى ته کنځلې وکړي او د قانون له هغه مادى څخه سواستفاده وکړي چې وايي د خلکو استازي د خپل مسوولیت په وخت کې تر تعقيب او پوښتنې لاندې نه شي نيول کېداى! دا چې په اوسني پېښه کې به پوليس ملامت وو که د خلکو استازي(!) بيله خبره ده؛ خو يو شى چې واضح دى، په نيمه شپه کې د ولسي جرګهى غونډه ده چې ټول ولس يې په غوسه کړى!

دا ويده او په قراردادونو او پروژو پسى لالهانده استازي هغه وخت چيرى وي چې پاکستان زموږ په سرحدي سيمو په سلګونو توغندي غورځوي!

دا ډېر په درغليو او دوکو راغلي استازي هغه وخت چيرى وي چې ايران په ښکاره له طالبانو سره ناستې پاستې کوي او د افغانستان په کورنيو چارو کى ښکاره لاس وهي، دا ډېر په پيسو راغلي استازي چې په اونيو – اونيو خپلو دندو ته نه حاضرېږي او جرګه بى نصابه پاتېږي، هغه وخت چيرى وي چې بهرني پوځونه په کليو، ودونو، جنازو، کروندو او روغتونونو بمونه غورځوي او په سلګونو خلک د مرګ کومې ته لېږي،

دا سمه نيمه د حرامو پيسو د مليونرانو ولسي جرګه، هغه وخت چيرى وي چې ترهګر پلونه ورانوي، سړکونه په ماشينونو اړوي، قومي مشران وژني، انفجارونه او انتحارونه کوي او په هېواد کې ناورينونه زېږوي،

دا تش په نامه ولسي جرګه هغه وخت چيرى وي چې د حکومت نيم وزارتونه خپله کلنى بودجه نه شي لګولاى، د فوتبال د فدراسيون مشر په خپلو لوبغاړو جنسي تېري کوي، عليپور او حسيب قواى مرکز غوندې خلک په رڼا ورځ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د ملي حاکمیت او قانون په ضد ناری وهي او په سلګونو نورې لویې او ملي مسلې؛ خو کله چې بیا د ګټو او تامیناتو خبره شي، بیا نیمه شپه غونډې جوړوي او د ځینو فعاله امنیتي افسرانو د موقوفي ګوتې ځنډي!

د افغانستان خلک په دې پوهېږي او سروې ګانې هم دا وایي چې جهادي زوراکي او غاصبین او د ملي شورى په تیره بیا ولسي جرګې ځینې غړي، د قانون تر ټولو ستر ماتوونکي دي. ځینې دا ښاغلي ځانونه د خلکو خدمتګار نه؛ بلکه د خلکو مالکین بولي. د تورو هېندارو په موټرو کې ګرځي، قانوني او غیرقانوني بادیګاردان ګرځوي، پریمانه وسلې لري، د وسلو او مخدره توکو په قاچاق، انسان تښتونه، هدفي وژنو او ډېرو نورو جرایمو کې ملوث دي.

په ټولنیزه رسنیو کې د دې پېښې په هکله د خلکو غبرګون، په ښکاره د پولیسو او امنیتي ځواکونو په ګټه دي او وایي چې د ولسي جرګې یو شمیر غړی د خپلو ګټو له پاره نیمه شپه غونډې جوړولای شي؛ خو په ملي مسایلو کې یې خولې ماتې دي!!

اتلو امنیتي ځواکونو د یو څو ښکرورو خولې ماتې کړئ

چې نور زورواکي قانون ته غاړه کېږدي!!

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ